AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۴/۱۰/۱۷

# د افغانانو ويني وړيا دي

څلور ورځې کيږي چې په مطبوعاتو کې دا خبر لاس پرلاس کيږي چې د ايران سرحدي پوليسو پر هغو افغانانو باندي ډزي کړي دي چې غوښتل يې د ايران خاوري ته په غيرقانوني توګه واوړي او ۲۶۰ تنه يې وژلي دي.

د طالبانو يوه مقام، د دې ويرژلي خبر په اورېدلو سره، وويل چې دا کسان بايد په غير قانوني توګه د ايران خاوري ته نه وای اوښتي. د دې خبري ضمني معنا دا ده چي ګواکي د ايران سرحدي پوليسو کوم بد کار نه دی کړی.

وروسته د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد وويل چې د دوی حکومت په دې باره کي تحقيقات کوي. داچي تحقيقات به کله نتيجې ته رسيږي معلومه نه ده.

که په دې شمېر او يا حتی تر دې په لږ تعداد خلک د نړۍ په هر ګوټ کې، په دومره بېرحمي وژل سوي وای، په غربي مطبوعاتو کي به يې حتماً انعکاس کړی وای او بېلو بېلو موسسو او دولتونو به دا عمل محکوم کړی وای. مګر د امريکا په مطبوعاتو کي چا دې مسلې ته لږترلږه توجه ونه کړه. دا خبره څکه کوم چې نن مې د امريکا د سی اين اين په تلوېزيوني خپرونه کي دا خبر وليدی چې ويل يې په نايجيريا کي ۱۴۷ تنه د تېلو له يوه ټانکر څخه د تېلو د وړلو په وخت کي د ټانکر په چاودنه کي وژل سوي دي.

زه نه وايم چي د نايجيريا د وګړو مړيني ته بايد توجه نه وای سوې خو هغوی د تېلو له ټانکر څخه، چي تازه يې ټکر کړی او وران سوی وو، د تېلو د وړلو په وخت کي قتل سوي ول. په داسي حال کي چي افغانان د ايران د اخوندي رژيم سرحدي ساتونکو په ډزو کي وژلي ول. دا دوې قضيې، په حقوقی لحاظ له مځکي تر اسمانه توپير لري.

د نايجيريا وګړي د يوې حادثې قرباني سوي ول، چي بايد هغه پېښه منځته نه وای راغلې. خو افغانان قصداً قتل سوي دي. که نور هيڅ نه وای نو د طالبانو حکومت خو بايد دا عمل محکوم کړی وای. افغانان بل غمخور نه لري او اوس يوازي يو خدای ورپاته دی. البته خدای يوازي د افغانانو نه دی بلکه د ټول بشريت خدای او خالق دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ما په نړۍ کي هیڅ داسي حکومت نه اورېدلی او نه لیدلی دی چي د خپلو وګړو په برخه کي دي دونه بې پرواوي. البته امریکا نشینو او اروپانشینو افغانانو هم د خپلو وطندارانو دې بېرحمانه قتلېدلو ته هیڅ یا چنداني توجه نه ده کړې. د مظلومو افغانانو دي خدای ملګری سي.



[په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف]



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ